مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر ۲۰۲۱/۰۴/۱۱

# د احساس مشعلونه

د دردمن جنرال سید حسن (حسن) په یاد، د دردمن سید حسن (حسن) د وخت او عصر د ظالمانو غندنه او په شعر د ده دشعرونو او و یناوو بشکلی هر کلی، کال ۱۳۷۸ پیښاور.

## د احساس مشعلونه

په مجمر کي ، د احساس چي سو ځيدلي
د زمان له فرعونانو ځوريدلي
خاوندان دعلم و فن ، په دي وطن کي
د انبار ، انبار غمونو سره ، تللي
بيماران چي ، په کړاو ددي وطن وو
داسی خلک ، زمانی دي کم ليدلي
چي په پټه خوله، وينا يي لکه ګل وه
حکمتدانه خلک ، دي وطن روزلي
فدايان د نام او ننګ، په خپله خاوره
خپل سرونه يي، په دي لاره ، بايللي
چي د نورو آسايش ، آرام د پاره
ګهوارې ، غوندي په ځان دي ، کړيدلي
راحت پريږدي ، زحمت واخلي ، پّه سرونو
د وطن په درد و غم کي ، ژړيدلي
چې راويښ ، په خپل کوکارو دا ملت کړي
د خپل قام و بيدارئ ته، چغيدلي
د وحشت او ويرې ، سختو زندانو کې
قدرمن يي ، سيد حسن په څير وژلي
په محبس د نام و ننګ او ميړنو کي
ډک جامونه يي ، د زهرو دي منلي
دي بيديا د بی قدرانوکې ، عمرونه
ډير زړه سوانده ، په ژړاشيون وتلي
مشعلونه د احساس او معرفت يي
د حکمت له منارو دي ، غورځولي
په وينا بلي ډيوي ، دهر محفل وي
چي په رمز او په حکمت وو ، رسيدلي
دا رنځونه به مو تل وي ، بی درمانه
طبيبان مو چي ، له ځانه دي رټلي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

د بیدرو بی احســـــــــاسو واکـداري کي
محـــــنتونه قدرمـــــنو دي، ګـــــــاللي
چی تر سره شــــــــــي ، مراد د انګریزانو
د وطن يي ، سر و سترګي دي ايســــــتلي
حاکمــــــــــان مو ، نوکران د استعمار وو
چي خدمت کي د دښــــــمن دي ، چليدلي
واکـــــــداران د تيـــــــاره ، ذهنيتونو
په نامـــــوس د معرفت دي لـــــو بيدلي
په کـــــلونو نادانانو دي ، وطـــــــن کي
معرفت د باغ ، کـــلونه دي ، زمـــو للي
ډیرګــــــــلونه ، داحســــــاس او اميدونو
په ګلشــــــن د ارمــــانو کي ، رژيدلـي
په هـــــغوی دي ، په زرګونو آفرين وي
چـــــي په قدر د دردمــــنو پوهيــــــدلي
خدای خبر په حـــــــــاتم خيلو به بيا راشي
داسي خلــــــک سيد حسن په شان ښاغلي
د (نادر) په زړه کـــــي، ځای دی د دردمنو
چی يي ډير ، په خپل وينــــــا دي ژړولي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ